**د خوراکي توکو د مرستي بيرني پروګرام (TEFAP) د ګډون کوونکي د څرګندونو رسيد**
(Rev.
7/24)

**تاسو په شفاهي بڼه د لاندې معلوماتو صحت تاييدوئ:**

1. **تاسو د کنکتيکت ايالت اوسيدونکی ياست.**
2. **تاسو د کورنۍ د غړو لپاره چې شمير يې لاندې ذکر شوی دی، د (کلني) ټيټ عايد په کچه کې ياست.**

لاندې جدول د هرې کورنۍ کلنۍ ناخالص عايد ښيي. که چيرې ستاسو د کورنۍ عايد د کورنۍ د غړو لپاره له هغې عايد څخه چې لاندې ښودل شوی دی، ټيټ وي، تاسو د TEFAP پروګرام مرستو ته واجد شرايط ياست.

| د کورنۍ د غړو شمير | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8* |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **کلني عايد** | $45,180 | $61,320 | $77,460 | $93,600 | $109,740 | $125,880 | $142,020 | $158,160 |

- د هر اضافي شخص لپاره $16,140 اضافه کړئ.

د عايد کړنلارې د فدرال د فقر د کچې 300 سلنه ښيي. نوی شوی په 7/1/2024نيټه

که چيرې ستاسو کورنۍ په لاندې پروګرامونو کې ګډون کوي، تاسو د **TEFAP** مرستو ته واجد شرايط ياست:
د خوراکي توکو د مرستې متمم پروګرام (**SNAP**)، د ښځو، نويو زيږيدلو ماشومانو، او ماشومانو پروګرام (**WIC**)، اړو کورنيو لپاره د لنډ مهالو مرستو پروګرام (**TANF or TFA**)، د انرژۍ مرستې، HUSKY Health/Medicaid، د کور د کرايې پروګرام 8 Section، د ايالت د عمومي مرستو پروګرام (**SAGA**)، او د خونديتوب متمم عايد (**SSI**).

3. **تاسو بايد راتلونکې ملاقات څخه مخکې د خپلې کورنۍ د عايد په باب ريپوټ ورکړئ.**

---

د فدرال د مدني حقونو د قانون او د متحده ايالاتو د کرهنې د وزارت (USDA) د پاليسيو او مقرراتو سره سم، دا نهاد د لاندې توپيرونو پر بنسټ تبعيض څخه منع دی: نژاد، د پوستکي رنګ، ملي اصليت، جنسيت (د جنسيتي هويت او جنسيتي توپير په ګډون)، معيوبيت، عمر او د پخوانيو مدني حقونو د فعاليتونو په دليل غچ اخيستل.

معلومات د انګليسي ژبې پرته په نورو ژبو هم د لاسرسي وړ دي. معيوبيت لرونکي کسان چې د پروګرام د معلوماتو په اړه د افهام او تفهيم نورو روشونو لکه (بريل خط، د تورو لوی چاپ، د اواز ضبط، د امريکي اشارې ژبې) ته اړتيا لري، بايد له اړوندې محلي يا ايالتي ادارې سره چې د پروګرام د تطبيق مسووليت په غاړه لري يا USDA's TARGET مرکز سره په 720-2600 (202) (voice and TTY) اړيکه ونيسي يا USDA سره د فدرال د ريلې خدمتونو سره په 877-8339 (800) شميره اړيکه ونيسي. په پروګرام کې د تبعيض په اړه د شکايت لپاره، شکايت کوونکی بايد په لاندې ډول خپل شکايت ثبت کړي: AD-3027 فورمه، د تبعيض په باب د USDA د شکايت فورمه چې د [USDA د تبعيض د شکايت له فورمي](#) څخه ترلاسه کيدی شي، د USDA په هر دفتر کې، د 632-9992 (866) شميرې له لارې، يا USDA ته د ليک د ليږلو له لارې. په ليک کې بايد د شکايت کوونکي نوم، پته، د ټيليفون شميره او د تبعيض د عمل په اړه هراړخيزه ليکل شوې شرحه شامل وي ترڅو د مدني حقونو د منشي مرستيال (ASCR) له مدني حقونو څخه د سرغړونې د ماهيت او نيټې په اړه خبر کړي. USDA ته بشپړه AD-3027 فورمه يا ليک بايد لاندې پتې ته وليږل شي:

1. **ليک**
U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue,
SW Washington, D.C. 20250-
9410; or
2. **فکس**
256-1665 (833)يا 690-7442 (202)؛ يا
3. **بريښناليک**
program.intake@usda.gov

دا موسسه د برابرو فرصتونو برابروونکي ده.

**دا سند د خوراکي توکو د بيرنۍ پروګرام (TEFAP) څخه د فدرال د مرستو د ترلاسه کولو په اړه چمتو شوی دی. کيدی شي چې د پروګرام چارواکي په دې سند کې ذکر شوي معلومات، تاييد کړي. تاسو دا سند د واجديت شرايط د تاييد په توګه ترلاسه کړی دی. غلط تصديق کيدی شي ددې لامل شي چې تاسو د خوراکي توکو ارزښت چې په ناسمه توګه تاسو ته درکړل شوی دی، بيرته د ايالت اړوندې ادارې ته ورکړئ، او همدارنګه کيدی شي د ايالت او فدرال قانون په چوکاټ کې د جنايي او مدني محاکمې لامل شي.**